DAILY

اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۲۶

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۲٦ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۰۰ گڼه د ۱۳۹۰ ل.- د وږي ۲٦ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـق شوال المکرم ۱۹ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۱۷ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

د افغانستان د ثبات په برخه کې د چین نوې اندېښنې

په کابل کې د دوشنبې د ورځې تر حملې وروسته، چې د وروستیو راپورونو له مخې لږترلږه ۲۷ تنه افغانان (پولیس، ملکیان او طالبان) په کې مړه او ژوبل شول، د چین ولسي جمهوریت په افغانستان کې د سولې او ثبات غوښتنه وکړه.

د چین چارواکي عموماً د افغانستان د سیاسي او پوځی حالاتو په اړه نظر نه څرگندوي خو سره له دې چې په افغانستان کې به د امریکایي پوځیانو د حضور له دوامه اندېښنه ولري، په دې هېواد کې د اقتصادي فرصتونو ډېره نه کوي او تراوسه پورې یې له افغانستان سره دوه ستر اقتصادي تړونونه لاسلیک کړي او په دې ډول یې ځان د افغانستان **۳مخ**

اعــــلان

دویچه ویلي المان ږغ راډیو د واوره اوزده کړه راډیویي ډرامو دپاره په پښتو او دري ژبو ممثلینو ته اړتیا لري.

د "واوره او زده کړه" خپرونه د آلمان ږغ، د راډیـویي ډرامو لړۍ ده چې د بشري حقونو، چاپیریـال سـاتني، کورني تاوتریخوالي او د ژوند د نورو اړخونو د ښه کولـو په اړه د ځوانانو لپاره چمتو کیږي.

دویچه ویلي المان ږغ راډیو ددې ډرامو د ۲۰۰ برخو د جوړولو د پاره په دواړو ژبو پښتو او دري د ۱۲ ځخه تر ۷۰ کلنۍ پوري ښځینه او نارینوو ممثلینو ته اړتیا لري.

نور معلومات په دغو انترنیتي پاڼو کي ترلاسه کولای سئ.

www.dw.de/pashto

facebook.de/dw.pashto

د دویچه ویله آلمان ږغ راډیویي خپروني هره ورځ د FM پر څپه ۹۰،۵ په کابل او لنډو څپو په ټول افغانستان کي اوریدلای سئ.

له ~~واحد~~ ← افغانی ته بدلـون مومو!

افغـــان بیـــسیم
د افغانستـــان نبنلـــوونـــکی
Afghan Wireless
Connecting Afghanistan
Simply

د پېرودونکو د خدماتو له څانګې سره اړیکې ونیسئ: ۱۵۳

www.afghan-wireless.com

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د هېواد وروستۍ نا امنۍ، امریکايي اډې او اندېښنې!

له څه مودې راپه دې خوا په افغانستان کې د نا امنیو څپې هرې خوا ته روانې دي او نږدې د هېواد هرې برخې ته رسېدلې دي. که د وروستیو څو میاشتو را په دې خوا د افغانستان امنیتي حالات ښه وڅېړل شي، نو ویلای شو، چې افغانستان د تېرو لسو کلونو په بهیر کې له دومره سختو ننګونو او نا امنیو سره نه و مخ شوی، لکه په دې څو میاشتو کې او له بده مرغه دا نا امنۍ اوس هم روانې دي او ورځ تر بلې پراخېږي. همداشان له دې سره په څنګ د ګاونډیو هېوادونو له خوا هم په سیاسي او امنیتي بهیر کې یو شمېر مهمې ننګونې او ګواښونه راپور ته شوي دي، چې د بل هر وخت په نسبت د اندېښنې وړ دي، د بېلګې په توګه د پاکستان له خوا د افغانستان پر سرحدي سیمو بریدونه، چې په پایله کې یې لسګونه افغان مړه او ژوبل شول او په سلګونو کورنۍ بې ځایه او مالي زیاتونه یې وزغمل او همداشان په ورته بېلګه سره د ایران له خوا د افغانستان پر حریم تازه یرغلونه او له دې سره په څنګ کې د یادو هېوادونو له خوا په افغانستان کې هر ډول زیاتېدونکې لاسوهنه، مخالفتونه او ننګونې، دا ټول هغه څه دي، چې د سړي په ذهن کې ډېرې پوښتنې را ولاړولی شي.

په همدې څو وروستیو میاشتو کې په افغانستان کې ګڼې مهمې پېښې، چې له هغې جملې نه د هېواد د لوړ پوړو چارو کوونکو وژل کېدل، د کندهار ناورینجن حالت، په دې وروستیو کې په وردګو ولایت کې امریکايي پوځونو ته درانه تلفات، د کابل د تېرې اونۍ خونړۍ پېښې، چې له امله یې لسګونو تنو ته مرګ ژوبله واوښته، د ولسي جرګې روانه لانجه، د قضايي نظام نیمګړتیاوې، د کابینې نواقص او په عمومي توګه د هېواد سیاسي، اقتصادي، امنیتي او ټولنیز نظام ګډوډي او ستونزې او په دې برخه کې شته ناخوالې ټول ښايي تر شا یوه انګېزه او یا یو راز ولري. ځکه هېڅ علت بې معلوله نه وي او د دې ټولو علتونو تر شا ارو مرو یو علت شته او زموږ په باور د دې ټولو علتونو معلول ښايي په افغانستان کې د امریکا د دایمي پوځي حضور مسئله وي. ځکه امریکا نه غواړي چې په اسانه افغانستان چې د دوی لپاره په سیمه کې د یو ستراتیژیک مرکز په توګه قرار لري، پرېږدي. هغوی غواړي چې تر ٢٠١۴ کال وروسته هم دلته پاتې شي او تر ډېره مهاله په دې هېواد کې پوځي شتون ولري او د دې کار لپاره هرې چارې ته لاس اچوي، او که د هرې ممکنه لارې وي، دوی به خپل هدف ته ځان رسوي او هغه د چاخبره دا ملت او دا دولت به بلاخره دې ته اړباسي، چې له دوی سره ستراتیژیک تړون ومني، خو بالمقابل بیا په دې برخه کې د هېواد د ګاونډیو ملکونو رول هم بې اغېزې نه دی، هغوی هم تر خپلې وسې هڅې کوي، چې په دې هېواد کې د امریکا د پوځي دایمي حضور مخه ونیسي او له ځانه د دفاع په خاطر هم دوی هرې روا او ناروا چارې ته لاس اچوي، نو په دې صورت کې چې دا مهال د دوی شتون لنډمهاله دی او ګاونډي هېوادونه دومره په اندېښنه او مخالفت کې قرار لري، نو که چېرې د دوی شتون دایمي شي، نو ایا د دوی اندېښنې او مخالفتونه به نور زور وانه خلي او ایا په هغه صورت کې به بیا لوېدیځ پوځونه په محدود شمېر سره د هغوی د مخالفتونو مخه ونیولی شي او ایا په افغانستان کې به امنیت خوندي او حالات راکابو شي او که به حالات تر اوس هم بدتر شي؟ دا هغه مهمې پوښتنې دي، چې جدي حل او دقیق ځواب ته اړتیا لري.

د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتیا څخه د ایران سرغړونه د افغان دولت لپاره ستره ننګونه



دولسي جرګې لومړی نایب وایي، که ثابته شي چې ایراني ځواکونو د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا سرغړونه کړې، دا جرګه به حکومت ترفشار لاندې راولي او د امنیتي ارګانونو له مشرانو څخه به په دې اړه پوښتنې وکړي.

د نیمروز د امنیې قومندان عبدالجبار پردلي وویل چې ایراني پوځیان د سې شنبې په ورځ د نیمروز ولایت د مرکز زرنج ښار په لوېدیځ کې د خواجه عبدالرحمان ګودر او عبدالرحمن لاله سرحدي سیمو ته داخل شوي وو چې د افغان پولیسو د مقاومت په نتیجه کې شاتګ ته مجبور شول.

د نیمروز امنیه قومندان وایي چې افغان پولیسو لومړی ایرانیو ځواکونو ته خبرداری ورکړ خو هغوی خبرداري ته توجه ونه کړه او هڅه یې وکړه چې په سیمه کې پوستې جوړې کړي.

د ده په وینا کله چې افغان ځواکونه پوی شول چې ایراني پوځیان د دوی اخطار ته توجه نه کوي ډزې یې پرې وکړې او له سیمې څخه یې تېښتې ته مجبوره کړل. ده وویل چې د دواړو خواوو ترمنځ جګړې نیم ساعت دوام وکړ. پردلي زیاته کړه چې اوس دا سیمه د افغان سرحدي پولیسو له لوري ساتل کېږي. «په دې ساحه کې د افغانستان اتل سرحدي پولیس د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او ملي ناموس دفاع کوي.»

د افغانستان حکومت تر اوسه پورې د ایران د دې اقدام په وړاندې هېڅ راز عکس العمل نه دی ښوولی.

د ولسي جرګې لومړی مرستیال خالد پښتون وایي چې دوی تر اوسه پورې کره شواهد نه لري چې **۳مخ**

امریکا، پاکستان را بخاطر حمایه از گروه حقانی هوشدار داد

امریکا میگوید حملاتی که در اواسط هفته گذشته در کابل صورت گرفت، گروه حقانی مستقر در پاکستان، آنرا سازماندهی کرده بود و هشدار داد که علیه این گروه، عملیاتی را در پاکستان به راه خواهد انداخت. لیون پنیتا وزیر دفاع امریکا، در واشنگتن به خبرنگاران گفت که حملات آخری کابل را گروه حقانی انجام داده و پلان آن در پاکستان طرح ریزی شده بود.



موصوف افزود که آنها چندین بار از پاکستان خواسته اند تا علیه گروه حقانی عملیات کند؛ اما پاکستان به انجام این کار موفق نگردیده است. قابل ذکر است که طالبان مربوط به گروه حقانی، در مناطق قبایلی پاکستان، وزیرستان شمالی فعالیت می نماید. پنیتا افزود: " اکنون ما برضد پاکستان، دست به عملیات متقابل خواهیم زد". لیون پنیتا گفت: " این مورد قبول ما نیست که گروه حقانی، علیه نیروهای ما در افغانستان حملاتی را انجام دهد و دو باره به پاکستان فرار نماید". وزیر دفاع ایالات متحده امریکا در هشداری به پاکستان گفت: کشورش برای دفاع از نیروهای خود در خاک افغانستان که مورد حمله شبه نظامیان پاکستانی قرار می گیرند، هر کاری انجام می دهد. به گزارش بی بی سی، لیون پنیتا، وزیر دفاع امریکا از پاکستان خواست ضد شبکه حقانی که وابسته به شبکه طالبان و مسئوول حمله به نیروهای سازمان پیمان اتلانتیک شمالی(ناتو) و سفارت امریکا در کابل بود، اقدام کند. پنیتا به خبرنگاران گفت: ما بارها از پاکستان خواسته ایم از نفوذ خود برای مقابله با حملات شبکه حقانی استفاده کند، اما پیشرفت کمی در این خصوص داشته ایم.

وی افزود: نمی خواهم بگویم که چگونه این مشکل را حل می کنیم، فقط می گویم اجازه نخواهیم داد این گونه حملات تکرار شود.

همچنان رایان کراکر، سفیر امریکا در افغانستان، شبکه حقانی را که متحد القاعده و طالبان به شمار می رود و در پاکستان مستقر است، مسئوول این حمله دانست. این درحالیست که جنرال الن قوماندان عمومی نیروهای آیساف نیز درکابل گفت که دستور حملات اخیری، خارج از افغانستان داده شده و حملات متذکره، از جانب شبکهٔ حقانی صورت گرفته است. همچنان بعد از ختم عملیات، وزیر امور داخله افغانستان بعد از بررسی ها در زمینه به این ارتباط اظهار داشت که دریافت شش عدد موبایل مهاجمان که روز سه شنبه در یک بلند منزل نیمه کاره؛ تأسیسات دولتی و آیساف را مورد هدف قرار داده بودند، نشاندهنده آنست که آنها تا آخرین دقایق از آنسوی مرز هدایت میشدند.

جاپان د کابل هوايي ډګر رغوي

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د یادې پروژې تړون د افغانستان د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت په استازیتوب د افغان سفیر له لوري لاسلیک شو، چې ٢٧،١٩ میلیونه امریکايي ډالره لګښت پرې راځي.

سرچینه زیاتوي، چې د نیهون دوبوکوسنګیو شرکت د داوطلبۍ په دویم پړاو کې، د دوو میلیارډو او نهو سوو میلیونو جاپاني ینو، چې ٢٧،١٩ میلیونه امریکايي ډالره کېږي، د کابل هوايي ډګر بیارغونه او ترمیم، تجهیز، د ځغاستې لیکو (رنوې کربښې) **۳مخ**

د ٧،۵ کیلومترو په اوږدوالي د کابل هوايي ډګر د ځغاستې لیکې (اصلي رنوې) د بیارغونې او جوړونې تړون د افغانستان او جاپان ترمنځ لاسلیک شو.

په توکیو کې د افغانستان سفارت له لوري په هغه خبرپاڼه کې، چې د وږي پر ٢۵مه خپره شوه، ویل شوي، چې یاد تړون په هغه هېواد کې د افغانستان سفیر ډاکټر سید محمد امین فاطمي او نیهون دوبوکوسنګیو (Nihon Doboku Sangiyo) د نړیوال شرکت د برخې رییس وکتسوهیکوسایجو ترمنځ لاسلیک شو.

ادعای پنتاگون مبنی بر حضور سرکرده جدید القاعده در پاکستان



سخنگوی وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) مدعی شده که "ایمن الظواهری" سرکرده جدید القاعده، در پاکستان به سر می برد.

به گزارش خبرگزاری فرانسه از واشنگتن، به دنبال انتشار نوار ویدویی که در آن ظواهری جانشین " اسامه بن لادن" سرکرده پیشین القاعده، امریکا را محکوم می کرد، "جرج لیتل" سخنگوی پنتاگون، گفت ظواهری هنوز در پاکستان بسر می برد.

وی گفت: " ما اطلاعی از حضور الظواهری در جای دیگری به غیر از پاکستان نداریم".

شبکه السحاب متعلق به القاعده، به مناسبت سالگرد حملات یازدهم سپتمبر ٢٠١١ پیام صوتی از ظواهری منتشر کرد که در آن سخنانی از بن لادن سرکرده سابق القاعده، بصورت زیرنویس مشاهده می شد. الظواهری در این نوار وید ویی ۶٢ دقیقه یی تحت عنوان "طلوع پیروزی، قریب الوقوع" اظهار میدارد که بن لادن **ص۳**

د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتیا...

د ایراني ځواکونو د اقدام په وړاندې عکس العمل وښيي، خو که ورته ثابته شي د امنیتي ادارو چارواکي به ترفشار لاندې راولي. ولسي جرگې د خپل کار نږدې یو کال په داخلي لانجو او اختلافاتو تېر کړی او ډېر لږ وخت يې د خلکو چارو او د حکومت د کارونو په څارنې لگولی دی.

په دې توگه باید وویل شي، چې پخوا هم ایران او پاکستان ځو ځو ځله پر افغانستان بریدونه کړي، د افغانستان خاورې ته داخل شوي، خو د افغان دولت له يې پر وړاندې هېڅ داسې کوم غبرگون نه دی ښکاره شوی، چې هغه دې د یوه هېواد ملي او ځمکني تمامیت د دفاع په توگه ثبت شي، بلکې په ځو نمایشي خبرو يې پر مسئلې پرده غوړولې ده، نو په دې ډول به وگور چې دا ځل د پېښې د کره والي په صورت کې به دولت په ځانگړې توگه ولسي جرگې چه د اقداماتو تېر يې وهلی څه وکړي؟

جاپان د کابل هوايي...

او د ځراغونو نصبول په کې شامل دي، د یادې پروژې په ترلاسه کولو بریالی شو.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې یاده شوې پروژه د جاپان د ۵ بیلیونو ډالرو د مرستو یوه برخه ده، چې د پنځو کلونو په موده کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانگړې شوې دي.

په تړون کې ویل شوي، چې د یادې پروژې کار به د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې له لومړنۍ سروې وروسته پیل او د ۲۰۱۳ کال په سپټمبر میاشت کې به بشپړ شي.

د یادونې ده، چې د کابل د نړیوال هوايي ډگر د نوي ترمینل او د اوسني ترمینل د پراختیا په خاطر، د افغان سفارت او جاپاني چارواکو او نورو سرچینو ترمنځ خبرې اترې روانې دي.

په توکیو کې د افغان سفارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په یاده پروژه به نږدې سل میلیونه امریکايي ډالره لگښت راشي.

د پژواک د راپور له مخې، د کابل هوايي ډگر اوسنی ترمینل په کال کې د یو میلیون مسافرو (کورنیو او بهرنیو الوتنو) لپاره جوړ شوی دی، خو اوس دا شمېره څه باندې یو نیم میلیون مسافرو ته رسېږي، چې تر ۲۰۲۰ زېږدي کال پورې د څلورو میلیونو او په ۲۰۲۵ کال کې د پنځو میلیونو مسافرو لپاره اټکل شوې دی.

د افغانستان د ثبات په برخه...

تر ټولو د لوی بهرني پانگوونکي په توگه تثبیت کړې دی.

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویندوی جیانگ یو د چهارشنبې پر ورځ په یوه خبري غونډه کې وویل: «چین په افغانستان کې وروستیو امنیتي پېښو ته زیات متوجې دی.»

ده د کابل د سې شنبې د ورځې حملې ته په اشارې وویل: «د افغانستان وروستۍ حملې د اندېښنې وړ دي او چین هیله لري چې اړوندې خواوې د مسوولانه تدابیرو په غوره کولو سره له افغانانو سره د امنیت په راستلو کې مرسته وکړي.»

ده همداراز وویل چې توقع لري په افغانستان کې د سولې او پخلاینې لپاره هلې ځلې کامیابې شي. په افغانستان کې د امریکا سفیر راین کراکر او همداراز د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان جان الن د کابل حمله د حقاني شبکې کار وباله. په کابل کې د امریکا سفیر راین کروکر په کابل کې وروستۍ برید یوه حمله نه، بلکې یوه ځورونه وبلله چې د ده په وینا د طالبانو د ناکامۍ ښودنه کوي. د متحده ایالاتو سفیر وویل: «په داسې حال کې چې په یوه هېواد کې وسلوال مخالفت موجود وي تاسو نه شئ کولی چې هر مضر کس ښار ته له ننوتو منع کړئ. په ځانگړې توگه کله چې هغوی خوندي ځایونه ولري. زموږ د معلوماتو له مخې دا برید کوونکي د هغو په شان چې په میدان وردگ کې يې حمله وکړه د حقاني شبکې برخه ده. دغه شبکه د پاکستان په شمالي وزیرستان کې خوندي ځایونه لري.» دغه راز په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان جنرال الن وویل چې دا حمله په پوځي برخه کې کوم تاثیر نه لري. د تاند د راپور له مخې، په لندن کې د نړیوالو خېرونو د یوه مرکز غړي جانتن ایل رویترز اژانس ته ویلي په کابل باندې د طالبانو د وروستۍ حملې هدف له لومړي سره داوو، چې وښيي دوی اوس هم د یوه ځواک په توگه پاتې دي. خو طالبانو وویل چې دوی په دې حملې سره وښودله چې نه یوازې کمزوري شوي نه دي، بلکې لا پیاوړي شوي دي.

مقامات پاکستانی در صدد بدنام کردن مهاجران افغان اند

مشتاق احمد "بخشی"

طبق گزارش رسانه های جمعی، مقامات پاکستانی در این اواخر در تلاش اند تا مهاجران افغان را که مقیم آن کشور هستند، بد نام نموده و لکهٔ سیاهی را که در جبین خود شان عیان شده است به مهاجران افغان وارد نمایند. البته این نوع اظهارات آنان ناشی از حمایت شان از شبکه های تروریستی در آن کشور می باشد که نمونهٔ بارز آنرا می توان از کشته شدن رهبر شبکهٔ تروریستی القاعده در ایبت آباد پاکستان و ده ها رهبر دیگر القاعده که در سال جاری در آن کشور به هلاکت رسیدند، نام برد که در واقع پرده از روی تمام کتمان ها و تحریف واقعیت ها که به حیث کشور حامی و پرورش دهنده تروریزم به آن مبادرت می ورزد، برداشت و چهرهٔ واقعی آن کشور به تمام جهانیان افشا گردید.

رحمان ملک، وزیر داخله پاکستان، در این اواخر اظهار داشته است که مهاجران افغان مقیم آن کشور دست به اقدامات تروریستی زده و این عمل آنان به نا امن ساختن آن کشور انجامیده است، حرف هایی که تا به حال کمتر شنیده شده است و همچنان هیچ سند و شواهدی در این زمینه وجود ندارد و هیچ یک از مقامات پاکستانی نیز تا به حال به چنین یک سندی دست نیافته اند. اما اینکه این حرفها چرا توسط این مقام پاکستانی اظهار شده است، به یقین که پاکستان می خواهد، مهاجران افغان را به عنوان تروریست و دهشت افگن به جهان معرفی نماید.

اما این گونه تلاش های مقامات ارشد پاکستانی بنا بر نظر اکثر صاحب نظران راه به جایی نمی برد و نمی تواند سبب تحریف واقعیت های موجود در منطقه گردیده و جامعهٔ جهانی نیز امروز به این واقعیت پی برده است که لانه های تروریستان در مناطق قبایلی پاکستان و حتا در شهرهای مفشن و زیبای آن کشور که کمتر کسی می تواند به آن جا راه یابد، موجود بوده و پاکستان از این طریق می خواهد از یک طرف مبارزه علیه تروریزم و دهشت افگنی را اعلام نماید و از طرف دیگر با حمایت مالی و نظامی از آنان بتواند سبب نا امنی و بی ثباتی در منطقه و جهان گردد. پاکستان با این چهرهٔ دو روی خود می خواهد سبب اغفال جامعهٔ جهانی و کشورهای منطقه گردیده و باج گیری های کلانی را از قدرت های جهانی نصیب کشور خود نماید. ضمناً حمایت مالی و نظامی حاکمان پاکستان از طالبان و افراطیان که از هیچ چشم بینایی پوشیده نیست، حتی جامعهٔ جهانی را که بیشتر از یک صد هزار نیروی نظامی در افغانستان دارد و سالانه به صد ها نیروی آنان در کشور تلف می گردد و در ضمن میلیاردها دالر هزینه می شود، سردمداران آن کشور توانسته است با حیله و تزویر همه را اغفال نموده و به اهداف مورد نظر خود برسند.

پس گفته می توانیم که نظامیان و حاکمان پاکستان با اظهار نظرات غیر مسوولانه و عاری از حقیقت می خواهند باز هم جامعهٔ جهانی را اغفال نموده و به همه اعمال ضد بشری و ضد انسانی شان رو پوش گذاشته و مهاجران افغان را که با تمام مشکلات و مصایب در آن کشور زیست می نمایند و زنده گی با مشقت را به سر می رسانند با بی شرمی تمام آنها را به اعمال تروریستی و دهشت افگنی متهم نموده و به این ترتیب می خواهند نام ملت افغان را که نام آوران تاریخ کشور و منطقه بوده اند و هستند، بد نام نموده و حیثیت و غرور افغانان را خدشه دار سازند که این عمل شان نابخشودنی بوده و ملت ما هرگز آنرا فراموش نخواهند کرد.

ادعای پنتاگون مبنی بر حضور...

دعا می کند در پی بهار عربی سال جاری، " زمستان تلخ و غم انگیز امریکایی ها" فرا رسد.

وی گفت قیام های مردمی درست مانند حملات یازدهم سپتمبر و ناکامی امریکا در جنگ عراق و افغانستان، نوعی شکست برای امریکا بود.

پنتاگون مدعیست در زیرنویس سخنان بن لادن در این نوار ویدویی، ظاهرا از همان موادی استفاده شده که در جریان حمله دوم ماه می سال روان میلادی، امریکا به مخفیگاه بن لادن در "ایبت آباد" پاکستان کشف شده بود.

د افغان بیسیم ګرانو پیرودونکو!

مونږ پر دې ویاړو چې تاسو ته خبر درکړو چې افغان بیسیم د خپل ټول ځواک په کارولو سره تل کوښښ کوي تر څو په هېواد کې تر ټولو ښه مخابراتي خدمات او آسانتیاوې تاسو ته برابرې کړي.

افغان بیسیم د مخابراتي خدماتو لومړنی وړاندې کوونکی شرکت دی چې هوډ لري د تل لپاره د موبایل ټلیفون د ښه خدماتو وړاندې کوونکي شرکت په توګه هم پاتې شي. افغان بیسیم به د خپل پراختیایی پروګرام په ترڅ کې په راتلونکو څو ورځو کې د خپلې ملي شبکې په لوړولو باندې بوخت وي. مونږ په پام کې لرو چې خپلو ټولو پیرودونکو ته ښې اړیکې، د غږ ښه څرګندوالي، ګڼ شمېر وړتیاوې او په ټوله کې د لوړ کفیت لرونکي خدمات وړاندې کړو.

په داسې حال کې چې موږ د راتلونکو پرمختګونو لپاره ډېر خوښ یاستو، باید تاسو ته خبر درکړو چې د داخلي شبکې د لوړولو پر مهال کېدای شي د افغان بیسیم په خدماتو کې ځینې کوچنۍ ستونزې رامنځ ته شي. هیله ده چې هیڅ یو له تاسو څخه د افغان بیسیم د خدماتو په اړه له کومې ستونزې سره مخامخ نه شي، او که چېرته مخامخ هم شئ نو ډاډمن اوسئ چې دا ستونزې به لنډ مهاله وي او زر تر زره به له منځه ولاړې شي.

که چېرته تاسو تر اوسه د افغان بیسیم پېرودونکی نه یاست، اوس د دې کار لپاره ښه دلیل لرئ. که چېرته تاسو یو ځل د افغان بیسیم پېرودونکی شئ، نو د هغه د نویو او په زړه پورې خدماتو او وړیا ټلیفونونو د کارونې لپاره به هوډ وکړئ چې تل د افغان بیسیم د پېرودونکي په توګه پاتې شئ. د افغان بیسیم لپاره راتلونکی په رښتیا سره روښانه دی! هیله ده له مونږ سره یو ځای شئ او د افغان بیسیم د پرمختللې داخلي شبکې او د هغې د نویو وړتیاو څخه ګټه پورته کړئ.

مونږ ستاسو د پوهېدنې او پاملرنې له امله مننه کوو او د هغو ورځو په هیله یوو چې پوره نوې او یوه پرمختللې شبکه ستاسو چوپړ ته وړاندې کړو.

د افغان بیسیم شرکت
د افغانانو او د افغانانو لپاره

افغان بیسیم
د افغانستان ښلوونکی
Afghan Wireless
Connecting Afghanistan
With The All-New & Improved National Mobile Network

ACKU

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

روش اخلاقی و حقوقی: همه افراد پولیس باید اصول مطابقت با قانون حقوقی، نیازمندی ها، عدم تبعیض، تطابق و انسانیت را احترام نمایند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان [illegible] گردید

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com